# داوطلبۍ ته بلنه

# داخلي پرانیستې داوطلبي

پروژه: د افغانستان بانک د تکنالوژۍ او معلوماتي لوی آمریت لپاره د سرورنو دستگاه او د ویندوزنو لایسنسونو چمتو او تدارکول
داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1402/NCB/G14

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د 1402 کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د DAB/1402/NCB/G14 داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { د تحویلی د جدول مطابق } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (maqsood.noori@dab.gov.af) بربښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د یکشنبې ورځ سهار له {10:00} بجو مخکې 1402/07/09 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.
آفر تضمین: بانکي تضمین یانقدی پیسی

۸. د آفر د تضمین مبلغ ( 267,300) دوه سوه شپږ اویا زره او دری سوه افغانۍ

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه 28 ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1402/07/09 څخه تر 118 ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د 15.2 مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.
یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1. د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم: تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکارندوی وي.

2. د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنۍ راکړې ورکړې حجم (9,801,000) نه میلیونه او اته سوه یو زر افغانۍ.

3. داوطلبان باید د اسنادو په چمتوکولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کې د ورته قرارداد لړترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکارندوی وي. یوه ورته پروژه لږ تر لږه 5,346,000– پنځه میلیونه دری سوه شپږڅلویښت زره افغانۍ - یا دوه ورته پروژې لږ تر لږه ، 8,910,000 اته میلیونو نه سوه لس زره افغانۍ په تیرو لسو کلونو کې.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستې پورې ټولیز ارزښت: ( 2,227,500/ دوه میلیونه او دوه سوه اوه ویشت زره او پنځه سوه افغانۍ)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**یادونه : د داوطلبۍ څخه مخکې غونډه د 1402/06/26 نیټه د یکشنبې ورځ د سهار پر 10:00 بجود د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت کې دایریږي.**

د آفر د سپارلو پته:
د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان
د اړیکو شمیره: +93 (0)777 57 23 49
بربښنالیک: maqsood.noori@dab.gov.af
ویب پاڼه: www.dab.gov.af